بسم الله الرحمن الرحیم

# د لمانځه وخت ټاکلو لپاره له نجومي (ستوري پیژندنې) د محاسبو څخه کار اخیستلی شو، خو د روژې او اختر ټاکلو لپاره یې نه شو اخیستلی

**ابو العاصم هاشمي ته**

**(ژباړه)**

**پوښتنه:**

اسلام‌علیکم و رحمت‌الله و برکاته! زموږ د قدر وړ امیره صاحب! دغه پوښتنه زما په ذهن کې له ډېره وخته ده. هیله لرم چې ستاسو لخوا روښانه شي. د الله تعالی څخه تاسو ته سلامتي او تندرستي غواړم او الله تعالی دې لویه فتحه ستاسو په نصیب کړي.

ولې موږ د کال په اوږدو کې د ورځې پینځه وخته لمونځ ټاکلو لپاره له نجومي محاسباتو څخه کار اخلو او د اختر او روژې وخت ټاکلو لپاره د نجومي محاسباتو څخه کار نه شو اخستلی؟

**ځواب:**

موږ دغه ډول پوښتنې ته په 2003/11/25 کې ځواب ورکړئ و، هلته داسې ویل شوي و:

[الله‌تعالی غوښتنه کړې، چې موږ د میاشتې په لیدلو روژه ونیسو او افطار یې وکړو او الله‌تعالی د میاشتې لیدل د روژې نیولو او خوړلو لپاره دلیل کړی دی. «**صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ**». «**کله دې چې ولیدل روژه ونیسه او کله دې چې ولیدل افطار وکړه.**» کله چې موږ د رمضان میاشت هلال ووینو روژه نیسو او کله چې د شوال میاشت هلال ووینو افطار کوو یې.

څوک چې د روژې په اړه نصوص ولولي، پوه به شي چې د لمانځه په اړه راغلو نصوصو سره توپیر لري، ځکه چې روژه او افطار په لیدلو پورې اړه لري:

«**صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ**».*ژباړه: کله دې چې ولیدل روژه ونیسه او کله دې چې ولیدل افطار وکړه.*

{**فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ**} البقره: 185]. **ژباړه:** *نو هر څا چې میاشت ولیدله، روژه دې ونیسي.* د میاشتې لیدل پرېکړه کوي. مگر د لمانځه نصوص له وخت سره تړاو لري.

{**أَقِمِ الصَّلاَةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ**} [الاسرا: 78]. ***ژباړه:*** *د لمر په پریوتو سره لمونځ قایم کړه.*

«**إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ فَصَلُّوْا**». ***ژباړه:*** *کله چې لمر له نصف النهار څخه تېر شو لمونځ وکړه.* لمونځ په وخت پورې اړه لري، نو په هرې وسیلې چې مو وخت معلوم کړی لمونځ وکړئ. کله چې لمر ته گورې د نصف النهار (زوال) په حال کې وي یا دې ولیدل چې د هر شي سیوری د هغه په خپله اندازه دی، لکه په هغو احادیثو کې چې د لمانځه د وخت په اړه راغلي، که چیرې دې وخت معلوم کړ، لمونځ صحت لري. که دې داسې و نه کړل، او نجومي محاسبه دې وکړه او پوه شوې چې لمر له نصف النهار څخه تیرېږي او یا دې خپل ستاعت ته وکتل، پرته له دې چې بیرون ووځې لمر او یا سیوری وگورې، لمونځ دې صحت لري. یعنې د هرې وسیلې په کارولو سره وخت ټاکې. ولې؟ ځکه الله سبحانه و تعالی امر کړی، چې د لمانځه وخت داخل شو لمونځ وکړه او د وخت ټاکلو کړنلاره یې تاته پریښې ده، هغه سبحانه وتعالی نه ده ټاکلې. د روژې په اړه هغه سبحانه وتعالی امر کړی، چې د میاشتې په لیدلو روژه ونیسه او هغه سبحانه وتعالی دلیل هم درته روښانه کړی له دې سره یې تاته ویلې: که وریځو د لیدلو مخه ونیوله او تاسو ونه شوای لیدلی؛ نو روژه مه نیسئ ان که میاشت د وریځو شاته وه او تاسو یې د نجومي محاسبو له مخې پرشتون باوري وئ.

**«حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ زِيَادٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ أَوْ قَالَ قَالَ أَبُو الْقَاسِمِ ﷺ صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ فَإِنْ غُبِّيَ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا عِدَّةَ شَعْبَانَ ثَلاَثِينَ»**
(البخاري)

***ژباړه:*** *آدم له محمد بن زیاد څخه روایت کوي، چې هغه له ابوهریرة رضی الله عنه څخه اوریدلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «د میاشتې په لیدلو روژه ونیسئ او د شوال میاشت په لیدلو یې پای ته ورسوئ او که آسمان وریځې پوښلی و (او ومو نه شوای لیدالی) د شعبان دیرش ورځې پوره کړئ.*

یعنې که دې میاشت ونه لیده، نو د شعبان دیرش ورځې پوره کړه.

الله سبحانه وتعالی د ټولو کايناتو خالق دی او هغه سبحانه وتعالی انسان ته هغه څه ورزده کړل، چې انسان پرې نه پوهېده. د ستورو او دقيقو علم د الله تعالی پر انسانانو يوه لورينه ده. خو الله تعالی له موږ څخه غوښتنه نه ده کړې، چې د روژې نيولو لپاره له نجومي محاسبو کار واخلو، بلکې له موږ څخه يې غوښتنه کړې، چې مياشت ووينو، نو موږ د الله سبحانه وتعالی هغسې عبادت کوو، چې څه ډول يې غوښتنه راڅخه کړې، نه هغسې چې هغه سبحانه وتعالی يې غوښتنه نه ده کړې.

د روژې نيولو او خوړلو لپاره يوازينی حکم د مياشتې ليدل دي، نه نجومي محاسبې.

نو په دې اساس وايو، چې د نجومي محاسبو له لارې د روژې نيول او خوړل جايز نه دي، د مياشتې ليدل يوازې د دې لپاره دي چې په نصوصو کې يې ذکر راغلی.

**ستاسو ورور**

**عطا بن خليل ابو الرشته**

**1443هـ.ق، د شعبان 22مه**

**2022م. د مارچ 25مه**

Facebook page پوښتنې ته د ځواب لينک د امير له فسبوکپاڼې